# شپنه ادې



ليکوال:
ډاکټر معمار حشمت الله اتمر
مياشت - نيټه / کال۱۴۰۳

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

(c) ketabton.com: The Digital Library



........................................................................

## لیکي پوهه:

**سرلیک:** شپنه ادي
**لیکوال:** ډاکټر مهندس حشمت الله ,, اتمر ،،
**اېډېټور:**
**د پښتنۍ ډیزان:** ډاکټر مهندس حشمت الله ,, اتمر ،،
**خپرندوی:**
**چاپشمېر:** ۱۰۰
**چاپ نېټه:** میاشت - لیندۍ / کال ۱۴۰۳
**واټس اپ:** ۹۳۷۹۹۳۷۶۹۹۸+
**برېښنالیک:** atmar_hashmatullah@yahoo.com

د چاپ حقوق له لیکوال او خپرندوی سره خوندي دي، بې اخځ ښوونې ترې د ګټې اخیستنې اجازه نه شته.

(c) ketabton.com: The Digital Library

شپنه ادي

...........................................................................

## لړلیک

**سرلیک** **چوپړی**

**پخښنتیٔ........................................................................ ۱**
**بسم الله الرحمن الرحیم ............................................................ ۲**
**لیکي پوهه:................................................................................ ۳**
**لړلیک ....................................................................................... ٤**
**تراڼ (پیل، شروع، برید)............................................................ ٥**
**د یادښتونو له پاره:..................................................................... ۷**
**نا انډوله (ناول، کېسه یا داستان) ............................................. ۸**
**د چاپ شویو کتابونو لېست............................................................ ٥۸**
**د کار لاندې کتابونو لېست ......................................................... ٦۱**
**د امکان او وخت په صورت کې..................................................... ٦۲**
**د پختیٔ ځتِ ................................................................................ ٦۳**

(c) ketabton.com: The Digital Library

شپنه ادي

.....................................................................

**تراڼ (پیل، شروع، برید)**

بِسْـمِ اللَّهِ الرَّحْمنِ الرَّحِيمِ، الْحَمْدُ لِلَّهِ إجْلَالًا لِقُدْرَتِهِ، وَ لَا إلَهَ إلَّا اللَّهُ خُضُوعاً لِعِزَّتِهِ، وَصَلَّى اللَّهُ عَلَى مُحَمَّدٍوَآلِه .

بې پایه ستاینه او بې حده مننه، د هغه سپېڅلي ذات نه چې د وجود مانۍ او کاینات یې د انساني وجود د تکامل او د انسان له پاره د خپل سپېڅلي ذات او عبادت د حقیقت له پېژندلو پرته جوړ کړل. هغه د ذات پوهه، عالي، لوړ او ښکلي نومونه دي، او کائناتو د پیدایښت یوه حتمي لامل دی. عظمت، د ټولې نړۍ موجودیت، د ناڅاپه څخه راوتل، حق د رسیدو جوهر په یوه والي کې د اعتراف، تباهۍ او بې وسۍ یوه له لوړو وسیلو څخه دی.

**ګرانو لوستونکو!**

دا ځل مې و غوښتل یو بل حقیقي داستان یا ناول چې کیسه یې په هېواد کې د ننه تېره شوې ده، د خپلو کتابونو مینوالو او لوستونکو سره شریکه کړم. زما د کتابونو مېنه وال یوازې معماران او انجینران نه دي، نه باید اوسي، نوځکه غواړم ورځ په ورځ د خپلو لیکونو کې توپیر راوړم چې د هرې څانګې مېنه وال په کې ډېر شي، دا کار به ما دېته اړ کړي چې لیکنې مې توپیر و لري او هم به مې مینه وال ډېر شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

شپنه ادې

.........................................................................

**پاکه ربه!**

زموږ له پاره خپله لاره بې ستونزې کړه، تر څو موږ له تا پرته بل څوک و نه وينو او نه يې وپېژنو. زموږ سره مرسته و کړه تر څو مو په وجود کې د غرور نخښه پاتې نه شي او د اسلام د دين له سپېڅلو بنده ګانو څخه مو و بولې.

- د نظر ټولو خاوندانو او هغه څوک چې دا کتاب لولي په ډېر درنښت هيله کيږي چې، خپلې غوښتنې او وړانديزونه د دې کتاب د بيا کتنې له پاره، زما سره شريکه کړئ.

Whatsapp: ٠٠٩٣٧٩٩٣٧٦٩٩٨

په در نښت
ډاکټر معمار حشمت الله اتمر

(c) ketabton.com: The Digital Library



........................................................................

**د یادښتونو له پاره:**

۱- ................................................................................

۲- ................................................................................

۳- ................................................................................

۴- ................................................................................

۵- ................................................................................

۶- ................................................................................

۷- ................................................................................

۸- ................................................................................

۹- ................................................................................

۱۰- ................................................................................

(c) ketabton.com: The Digital Library

شپنه ادي

..........................................................................

**نا انډوله (ناول، کېسه یا داستان)**

پوره شپږ کاله د مخه د یوه ځای ښخه تېرېدم چې بې پلانه ساحه، د حشمت خان کول ته نږدې او په غیر قانوني توګه جوړه شوې وه.

په کوڅو کې وړاندې تلم، غیر پلاني کورونو ته مې نظر اچوه او په زړه کې مې ویل:

ګوندې کومه ستونزه په ودانولو چارو کې پیدا کړم، پر هغه به لیکنې وکړم یا انځورونه یې واخلم، د خپلو ځوان محصلینو سره یې شریکه او پر ستونزو یې مسلکي نظر واچوم.

یوه څو ودانۍ مې په سترګو ولګېدې چې په غیر تخنیکي (غیر فني) توګه جوړې شوې وې. د ودانیو په تهداب کې تیږې په غیر منظمه توګه کارول شوې بیا پرې پخسه، اومه خښتې وروسته پرې پخې خښتې کارول شوې وې.

ما د هغې ودانۍ او څو نورو نه انځورونه واخیستل او وړاندې روان شوم.

بیا یوه کوښني ډګر خوا ته نږدې شوم.

سترګې مې په یوې لوې کیږدۍ ولګېدې چې تر څنګ یې اوښان ښکارېدل.

زه لږ نږدې لاړم.

کیږدۍ خورا زړه او په لسګونو پیوندونه ( پینې) په کې ښکارېدې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما له پاره د حيرانتيا خبره دا وه چې:

دلته يوائې يوه کيږدۍ؟

کوچيان تل سره يو ځاى وي.

د هغوى کيږدۍ سره نږدې او ټول سره په يوې سيمې کې ژوند کوي.

بيا دا ولې يوازې، د کورونو تر څنګ ولاړه او شاو خوا يې نورې کيږدۍ نه ليدل کيږي.

نور هم نږدې لاړم.

د کيږدۍ خوا ته ماشومان په لوبو بوخت وو.

په ماشومانو کې دوي د کوچيانو او نور يې د کلي ماشومان ول.

هغوى په ګډه چينترى (چينترک) کوه.

نور هم نږدې شوم.

د ماشومانو مې و پوښتل:

دا کيږدۍ د چاه ده؟

د کلي ماشومانو و ويل:

د دغو ما شومانو ده.

بيا مې کوچني الک ته و ويل:

دا کيږدۍ د تاسو ده؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه و ويل:

هو!

بيا مې و پوښتل:

پلار دې په کيږدۍ کې دی؟

هغه و ويل:

نه!

زما پلار د يوه ماين په چاودنه کې مړ شوی دی.

بيا مې وپوښتل:

ته له چا سره ژوند کوې؟

هغه و ويل:

زه مې له ادې سره ژوند کوم.

ما و ويل:

ادې دې چېرته ده؟

هغه و ويل:

ادې مې رمه د څرولو د پاره وړې ده.

بيا مې و پوښتل:

په کيږدۍ کې ستا مشر ورور شته؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه و ویل:

نه!

زما مشر ورور هم د ادې سره مې تلی دی.

ما و پوښتل:

په کیږدۍ کې څوک شته؟

هغه و ویل:

نه!

دلته زه او خور مې یو.

وروسته مور او ورور مې رمه راولي.

بیا مې و ویل:

کومې خوا رمه څروي؟

هغه د کول خوا اشاره وکړه.

ما دهغه او نورو ماشومانو نه مننه وکړه او د کول خوا روان شوم.

لږ وړاندې لاړم.

رمه مې تر سترګو شوه.

رمې ته نږدې شوم.

رمې ته نږدې یوه ښځه او ماشوم لیدل کېدل چې ولاړ او د پسونو ننداره یې کوله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



..............................................................................

نور هم نږدې شوم او پر ماشوم مي غږ کړ:

سپی خو به دې خوړل نه کوي؟

هغه و ویل:

نه!

زه يې نه پرېږدم چې ځوک وډالي.

نور هم نږدې شوم.

له هغه مې و پوښتل:

کولای شئ د پلار د مړينې کيسه دې راته وکړئ؟

هغه و ویل:

زما په ياد نه ده.

په دې وخت کې مور يې نږدې شوه.

هغې مخ په پلو پټ کړ او ویې ويل:

ته څوک يې وروره؟

ما ورته و ویل:

زه يو انجينر، استاد او نوی ليکوال يم؛

غواړم چې کتابونه وليکم.

بيا هغې و ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



په کتابو څه کوې؟

ما و ویل:

کتابونه لیکم بیا یې په وړیا توګه په خلکو ویشم، تر څو خلک هغه ولولي او ترې ګټه پورته کړي.

هغي و ویل:

د کتابونو ګټه څه ده؟

ما و ویل:

په ګټه یې هغه څوک پوهیږي چې لیک او لوست ولري.

بیا هغې زیاته کړه.

مونږ خو لیک او لوست نه لرو او نه هم له مونږ سره امکانات شته.

زمونږ ټول عمر په سفر کې وي.

خبرې زیاتې شوې...

ما له هغې و غوښتل چې خپل د ژوند داستان په لنډه توګه راته و وایې چې زه یې په کتاب کې راولم، تر څو نورترې څه زده کړي او د کلونو د پاره په زړونوکې پاتې شي.

هغه په سوچ کې شوه.
وروسته یې راته و ویل:
زه به خپل د ژوند لنډ داستان تا ته و وایم .

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ته يې وليکه!**

کتاب چې دې چاپ کړ يو ټوک يې ماته و ساته، کوم وخت چې زه بېرته راغلم، ماته يې راکړه.

ما ورته هوډ ورکړ چې همداسې به کوم.

ما داستان يا ناول داسې پيل کړ:

(c) ketabton.com: The Digital Library

شپنه ادي

.....................................................................

نوم يې پانه او ديوه شپانه په کورنۍ کې زيږدلې وه، شنې سترګې او د شيدو غوندې سپينه او ښکلې وه.

د کوشنيوالي نه يې د پشيرليو(ميږو شيدو څښونکي بچي) سره عادت کړی و او د پشيرليو په سې يې خپوړې هم کولې.

پشيرلي به يې نيول او ښکلول.

لږ غټه شوه او په خبرو راغله، بيا به يې په پشيرليو غږ کاوه او هغوی هم د پانې له غږ سره بلد (عادت) شوي اوهغې ته به يې ځانونه نږدې کول.

هغې به هم خپل نازکه لاسونو پشيرليو د غاړې نه تاوول او سرونه به يې مچول.

پشيرليو به د هغې په غېږ کې ځانونه سولول او د هغې سره به يې مينه کوله.

هغه غټېده او د پشيرليو سره يې مينه ډېرېده.

په ژمې کې به د تور غره په لمنه کې تر کيږدۍ لاندې او په دوبې کې کابل ښار د پغمان په شنو درو او سيند غاړه ژوند کوه.

هغه ژر، ژر غټېده.

موريې ورته په زنه کې شنه خالونه و وهل.

هغې به ورته شين خالۍ غږ کاوه.

شين خالۍ نوم د پانې خوښ نه راته او مور ته به يې ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

شپنه ادي

.....................................................................

ماته شين خالۍ مه وايه!
ماته پانه و وايه!
زما د غرو د ونو پاڼې ډېرې خوښېږي.
پاڼې شين، ژېړ، سور او داسې نور ښکلي رنګونه لري.
زما سور رنګ يې تر ټولو خوښ دی.

مور به يې خندل او ويل:
ته د کوچنيوالي نه پخې، پخې خبرې کوې.
ښه به دا وي چې تا ته ادې و وايو.

هغې به خندل او کوښښ به يې کوه چې غټې او پخې خبرې وکړي.

هغه لږ نوره غټه شوه.
ديارلس کلنه شوه.
د مور سره به يې مرسته کوه.
کله ناکله به يې د پلار سره رمې د څرولو له پاره غرو لمنې ته، تله.

هغه ډېره هوښياره وه.
هرڅه ته به يې پام کوه.
په کوم شي چې نه پوهېده، د خپل پلار او يا د مور نه به يې پوښتنه کوه.

هغې بل ورور او خور نه درلود.

د کور يواځينۍ ماشومه وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



.....................................................................

هغې به د الکانو کارونه هم کول.
چینې ته به د نورو خورڼو سره تله.
بیا به یې له غره نه بوټي هم راوړل.

هغه ډېره غښتلې او زړوره وه.
د خپلو همځولو سره به یې چینترې یا چنترک، لوبه کوه.
هغې به تل لوبه ګټله.

په منډو کې هم تر نورو تکړه وه.
هېچا به نه شو کولای چې هغه په منډو کې و نیسي.

هغې به د کور کارونه لکه:

- پخلی
- ډوډۍ پخونه په تناره او پر تبۍ
- لوښي مینځل
- کالي مینځل
- مېږې لوشل
- مستې او پنېر جوړول
- تروې شاربل
- په ستنې کالي ګنډل
- جاړو کول او داسې نور کارونه زده کړل.

مور به یې هم کوښښ کوه چې هغه هر څه زده کړي، تر څو په راتلونکي وخت کې چا ته محتاجه او لاس یې بند نه شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



..........................................................................

هغې به ښه او د مشرانو کارونه کول.
ځکه مور او نورو همزولو به هغې ته ادې ویل.

ادې ځوانه (پیغله) شوه.
د هغې د ښایست ډنډوره شوه.

ټولو کوچیانو کې د ادې د ښایست او کار یادونه کېده.

څه وخت تېر شو.
هغه د خپلې کورنۍ سره تل په شان د کابل نه تور غره لمنې ته کډه شوه.

لمړی یې د کیږدۍ په درولو کې له پلار او مور سره مرسته وکړه.
وروسته یې اوښ کیناوه او د اوړو جوال یې راکوز کړ.

بیا یې اوړه په لپو د جوال نه وا خیستل.

اوړه یې په یوه غټ ختین لوښی کې چې تغاره نومیده واچول.

وروسته یې د اوبو بوشکه واخیسته، سر یې خلاص او د اړتیا اندازه اوبه یې په تغاره کې واچوې.
وروسته یې مالګه هم ور زیاته کړه.

اوړه یې لامده او کوشنی ټوکر یې پرې اوار او لمر ته یې کیښود.

(c) ketabton.com: The Digital Library

شپنه ادي

.........................................................................

بیا يې له ډبرو نه، نغری جوړ کړ.

وچ بوټي يې را ټول کړل.

اور لګيد يې د مور څخه واخيست اواور يې بل کړ.

لمړی يې تور چايبر(چايجوش) په نغري کېښود.

اوبه يې و خوټولې، بيا وروسته يې پريمانه شين چای په چايبر کې واچوه.
پيالې يې پريمينځې.

په دي وخت کې د هغې مور او پلار نور اړين کارونه لګه:
- د اوښانو نه بار کښته کول
- د نيمڅيو اوارول
- د بسترو دننه کول
- د توشکو اوارول
- د بالښتونه کېښودل
- د رمې تنظيمول
- د اوښانو او خرو تړل کيږدۍ خواته،

د ميږو لوشل او داسې نور کارونه تر سره کول، ټول خلاص کړي ول.

چای د دمولو نه وروسته هغې د اوړو تغاره راوخيسته.
تبۍ يې پرنغري کېښوده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پتیره ډوډۍ په پخولو، لګیاه شوه.

ډوډۍ یې پخې او په کوچنۍ ټوکرۍ کې یې کېښودې.

ډوډۍ پخول خلاص شول.

هغې د نغري اور مړ کړ.

بیایې ټوکرۍ واخیسته او کیږدۍ ته د ننه شوه.

هلته یې ټوکر اوار کړ.
ګړه (ګوړه) یې هم په ټوکر کېښوه او چای یې پر پیالو و وېشل.

بیا یې ډوډۍ هم د ټکرۍ نه واخیسته او پر ټوکر یې کېښوده.

مور اوپلار ته یې و ویل:
راځئ!
ډوډۍ وخورو!

هغوی هم ټوکر ته نږدې شول.
په خوړو یې پیل کړ.
چای او ډوډۍ هغوی ته ډېرخوند ورکړ.
دا ځکه چې خورا ستړي شوي وو.
پانه (ادې) خورا ستړې شوې وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



........................................................................

بیا یې سر ته بالښت کېښود او بیده شوه.

پلار یې رمه څرولو ته ویوړه.

مور یې هم په نورو کارونو بوخته شوه.

دوې ګړۍ وروسته هغه له خوبه ویښه شوه.
سترګې یې و مښلې.
بیا له ځایه اوچته او ودرېده.

مور یې غږ کړ!
ادې پاڅېدې؟

هغې و ویل:
هو!
څه دې ویل؟

مور یې و ویل:
نه!
څه مې نه ویل.
کولای شې، چې د همزولو نجوسره ګودر ته لاړه او اوبه راوړې؟

هغې و ویل:
هو!
کومه ستونزه نه شته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



.....................................................................

هغې خر کته او تشې بوشکې يې پر خره وتړې.
بيا يې پر نورو نجونو غږ کړ.
څوک اوبو ته ځي؟

نجونو غږ کړ!
دا دی!
مونږ هم اوبو ته ځو.

نورو هم خرونه کته کړل او بوشکې يې پرې و تړې.

ټول سيند خوا ته روان شول.
څنډ وروسته هغوی سيند ته ورسېدل.

بوشکې يې د خرو نه خلاصې او پر ځمکه يې کېښودې.

يوه، يوه بوشکه به يې ډکوله او خرو ته به يې نږدې ايښوده.

ټولو خپلې بوشکې ډکې او خپلو خرو ته يې نږدې کړې.
بيا وروسته هغوی و ويل:
راځئ!
په وار سره به بوشکې پر خرو و تړو.
بيا به ټول يو ځای کيږديو خوا روان شوو.

هغوی يو دبل سره مرسته کوله.
ټولې بوشکې پرخرو و تړلې شوې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا ادې غږ کړ!
خرونه و ګورئ چې بوشکې سستې نه وې.

ټولو و ویل:
بوشکې کلکې دي.

ادې و ویل:
بس!
حرکت کوئ.

خرونه مخکې او نجونې ور پسې شوې.

په لاره کې به یې ټوکې کوې او خندل.

هغوی په لاره روان وو.
د ادې د تره زوی چې نوم یې سور ګل و، تر منځ بوټي شا پټ و.
او د ادې ننداره یې کوه.
بوټی ډېر غټ و.

نجونو ته هغه نه ښکاره کېده.

نجونې تېرې شوې.

سورګل په مړه خېټه، د نجونو ننداره وکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا یې په زړه کې ادې یې د نورو نجونو سره پرتله کړه.

هغه ته د ادې د لارې تګ، غښتلتیا او خندا خوند ورکړ.

وروسته له ځایه پاڅېد.
شاو خوا یې و کتل.
څوک نه ښکارېده.
سورګل ورو، ورو خپلې کیږدۍ خوا ته روان شو.

هغه به هره ورځ تر هغه غټ منج بوټي شا ته پټېده او د ادې ننداره به یې کوه.

هغه په ادې مین شو.

پسرلی شو.

کوچیانو بیا ګډې بار او د سړو سیمو خوا ته روان شول.

سور ګل هم د نورو کوچیانو په شان د خپلې کورنۍ سره کابل ته لاړ.
هغه کابل کې په یوه او بل چل د ادې لیدنه کوه.

دوې، درې کاله نور هم تیر شول.

سور ګل مجبور شو چې د ادې په هکله خپلې مور ته و وایې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



موریې ډېره خوشحاله شوه.
ځکه !
ادۍ خورا غښتلې، کاریګره، چابکه او ښکلې نجلۍ وه.

موریې د سورګل پلار ته هغه د مینتوب کیسه، وکړه.

هغه هم ډېر خوشحاله شو.
بیا یې و ویل:
د هغې پلار زما ورور دی.
مونږ به د هغې کور ته د دود سره سم رایباریۍ ته لاړ شو.

لمړی د سور ګل مور رایباري ته لاړه.

هغې د ادۍ په هکله، هغې مور ته و ویل:
بیا مور یې څه وخت واخیست تر څو دا خبره د هغې پلار سره شریکه کړي.

خبره شریکه شوه.

بیا پلار یې و ویل:
ښه به وي چې دا خبره د ادۍ سره هم شریکه شي.
وګورو چې هغه څه وایي؟

مور یې  خبره د ادۍ سره شریکه کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه چوپه پاتې شوه او څه يې و نه ويل.

بيا مور يې ترې پوښتنه وکړه.

بيا يې څه و نه ويل او په سوچ کې ډوبه شوه.
په دريم ځل يې و ويل:
څه چې د الله رضا او ستاسو خوښه وي.

مور يې په ژړا شوه.

ادې و پوښتل:
ولې ژاړې؟

هغې و ويل:
په رښتيا چې جلۍ د بل کور وي.
خوځو موده د پلار په کوروي.
تر څو چې پيغله شي.
بيا بل کور ته ځي.

د جيبه يې دسمال و ويست او خپلې اوښکې يې پرې وچې کړې.
بيا ودرېده او د کيږدۍ نه د باندې شوه.

اونۍ تېره شوه.

د سورګل مور بيا رايبارۍ ته لاړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



.......................................................................

د پانېي (ادي) مور سره يې تروې وخښلې او بيا يې د رايبارۍ خبره تازه کړه.

هغې و ويل:
ما د ادي پلار سره هم خبرې وکړئ، کومه ستونزه نه شته.

مونږ سور ګل پېژنو، هغه غښتلی ځوان دی.
د جمعې په ورځ نارينه راولېږئ.
مونږ به تاسو ته دسمال درکړو.

د سور ګل مور خوشحاله شوه او ويې خندل.
بيا ودرېده او د ادي پوښتنه يې وکړه.

د ادي مور و ويل:
هغه ګودر ته تللې ده.
اوس به د نورو نجونو سره يو ځای راشي.

د ادي مور وپوښتل:
هغې ته دې څه ويل؟

د سورګل مور و ويل:
نه!
هېڅ!
غوښتل مې چې مخ يې مچو کړم.
همدومره!

(c) ketabton.com: The Digital Library



.....................................................................

په دې ترڅ کې د ادې پلاز کيږدۍ ته د ننه شو.
هغه سلام واچاوه.

ښځو د هغه سلام ته وعليکم و ويل.

بيا د سورګل مور د ادې د مور نه خداى پاماني واخيسته او د کيږدۍ نه د باندې شوه.

هغه ورو ورو خپلې کيږدۍ خوا ته روانه شوه.
ډېره خوشحاله وه.
پنځه دکيکې وروسته خپلې کيږدۍ ته ورسېده.

د کيږدۍ مخ ته د هغې زوى، سورګل ولاړ و.
هغه خپلې مور ته سلام واچوه.
مورېې هم وعليکم و ويل.

بيا سورګل و پوښتل:
خوشحاله راغلې که خپه؟

هغې وخندل.
بيا يې و ويل:
د سور ګل مور کله خپه راغلې ده.
هغه تل خوشحاله وي.

سور ګل هم خوشحاله شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



.....................................................................

بیا مور یې و ویل:
اوس به دې پلار رمه راولي او زه به شیدې ولوشم.
ماښام به ستا پلار ته ټولې خبرې وکړم.

بیا یې سورګل ته و ویل:
ته لږ لرګي مات کړه.

هغه تبر واخیست او دلرګیو په ماتولو یې پیل کړ.

پلار یې هم رمه راوسته او د کیږدۍ خوا ته یې ودروله.

مور یې غوالشه واخیسته او د شیدو په لوشلو یې پیل کړ.

ماښام شو.

مور یې الکین بل (روښانه) کړ.

ټوله کورنۍ د الکین خوا ته راټوله شوه.

بیا یې ټوکر اوار کړ.
خوېندو یې تودې شیدې او جوارې پر ټوکر کېښودل او په خوړو یې پیل کړ.

د سورګل مور د ادې کیسه راوخیسته او ټولو ته یې د رایبارۍ د تګ پایله و ویله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغوی ټول خوشحاله شول.

د سور ګل د رایباریٔ په هکله یې خپل ورور او د تره (اکا) د زامنو سره شریکه کړه.

بیا یې د هغوی نه غوښتنه وکړه، تر څو د هغه سره د جمعې په ورځ رویباري ته لاړ شئ.

هغوی و منله.

جمعې ورځ راورسېده.

سور ګل ډېر خوشحاله و.

هغه وختي له خوبه پاڅېد او رمه یې دښتې خوا ته راونه کړه.

د سور ګل نور ورونه او د اکا (د تره ځامن) ورسېدل.

د سورګل پلار ټولو ته بلنه ورکړه تر څو پر نیمځي کښېني.

هغوي کیناستل.
ځند وروسته د سهار شیدی او د تبیٔ توده ډوډیٔ را ورسېده.
ټولو پر خوړلو او شیدو څښلو پیل کړ.

بیا د سورګل پلار و ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



درځئ چې ځو.
ټول ولاړ شول.

بیا د سور ګل پلار مخکې او نور ور په سې شول.

لږ ځنډ وروسته د ادې کېږدۍ ته ورسېدل.

هغوی د کېږدۍ خوا ته ودرېدل او غږ یې کړ.
د ادې پلاره!
وه د ادې پلاره!
میلمانه منۍ؟

ادې پلار د کېږدۍ نه را ووت.
او ویې ویل:
ولې نه!
په سترګو یې منم.

بیا هغوی ټول کېږدۍ ته د ننه شول.

د ادې پلار هغوی د نیمڅي د کیناستلو غوښتنه وکړه.
هغه و ویل:
ورونو!
دیخوا پر نیمڅي کښېنئ.

هغوی پر نمیڅي کښیناستل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



..........................................................................

د ادي پلار خپلې ښځې ته و ويل:
د ادي مورې!

هغې و ويل:
څه وايې؟

هغه و ويل:
تودې شيدې راوړه چې و يې څښو.

اوا (هوا) لږ سړه ده.

خوږه هم راوړه چې نور هم خواږه شوو.

ټول په خندا شول او ويې ويل:
مننه كوو.

بيا د سور ګل پلار و ويل:
تاسو ټول پاخه او پخې، پخې خبرې كوې.
ادې خو د كوچنيوالې نه پخه پټيره وه.
غټې، غټې او پخې خبرې به يې كوې.
نو د دې كبله ټولو ورته ادې ويل.

هغوی بيا په خندا شول.
او پر ټوكو، ټكالو يې پيل كړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



.......................................................................

بیا څه ځنډ وروسته د سور ګل پلار و ویل:
مونږ ټول خپل کارونه لرو.
ښه به وي چي په اصلي موضوع خبرې وکړو.
د سور ګل پلار زیاته کړه:
ما خپله ښځه د سورګل د رایباري له پاره لیږلې وه.
هغه څو ځلي ستاسو کورته راغله.
په پایله کې د تاسو د موافقې پیغام سره راغله.

د ادې پلار و ویل:
سمه ده!
کومه ستونزه نه شته.

بیا یې غږ کړ:
د ادې مورې!
وه د ادې مورې!

هغه ولاړه شوه او ویې ویل:
څه دې ویل؟

هغه و ویل:
دسمال او پتاسې راوړه.

هغې و ویل:
سمه ده!

(c) ketabton.com: The Digital Library



.........................................................................

هغې دسمال او پتاسې راوړې او د میلمنو مخې ته یې کېښودې.
یوه سپین ږیري و ویل:
مبارک!
مبارک دې وي!
ټولو ته دې مبارک وي.

هغوی دسمال واخیست او پتاسې یې و وېشلې.
چا د کمیس او چا هم د واسکټه په جبونو کې واچوې.

بیا هغوی ټول و درېدل او د ادې د پلار نه یې د وتو اجازه واخیسته.
بیا د ادې پلار ودرېد.
هغه و ویل:
دا مو خپله کیږدۍ ده.
هر کله راشئ.

میلمانه د کیږدۍ نه و وتل او د سور ګل کیږدۍ خوا ته روان شول.

ټول سورګل کیږدۍ ته د ننه شول.

د سور ګل مور شین چای راوړ او د سورګل پلار او نورو ته یې مبارکي و ویله.

د سور ګل پلار هم د جبه پتاسې وباسې او پر خپل دسمال یې کېښودې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا یې و ویل:
ونیسئ.
پټاسې واخلئ.

هره ورځ اختر نه وي او نه پټاسې.

ټولو خپل چای د پټاسو سره وڅښل.

بیا یې د سور ګل پلار ته مبارکي و ویله.

له ځایه پاڅېدل.

د سور ګل پلار هم له ځایه پاڅېد او د میلمنو سره د کیږدۍ نه د باندې شو.

میلمنو د سورګل پلار سره خدای پاماني وکړه او هر کس خپل کارونو په سې لاړل.

میاشت تېره شوه.

د سور ګل مور بیا د ادې کورته لاړه او د هغې سره یې د کوژدې د مراسمو په هکله خبرې وکړئ.

د ادې مور و ویل:
هر کله چې تاسو خوښ یاست.

(c) ketabton.com: The Digital Library

شپنه ادي

.......................................................................

د سور ګل مور کورته لاړه او د خپلې کورنۍ سره يې په دې هکله مشوره وکړه.

ټول په دې نظر شول، چې نوې اونۍ کې به د کوژدې مراسم تر سره کړو.

څو ورځې تېرې شوې او د کوژدې د مراسمو وخت و رسېد.
بيا کوژده تر سره شوه.

يوه کال وروسته د واده خبره و شوه.

واده په دوبي کې و ټاکل شو.

په دې وخت کي ټول کوچيان په کابل کې ول.

هغوې خپل اوخپلوانو ته يې په واده کې بلنه ورکړه.

د سورګل پلار د سيمې مشران هم په واده کې د ګدون کولو له پاره و بلل.
د هېواد د دود سره سم واده هم تر سره شو.

سورګل او پاڼې (ادې) خپل نوی ژوند پيل کړ.

دوي مياشتې تېرې شوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



..................................................................

د کابل هوا مخ په سړېدو شوه.

کوچیانو پرېکړه وکړه تر څو بېرته تودو سیمو ته سفر وکړئ.

سور ګل له ځانه سره ویل:

اوښانو بیا غاړې کړې کړي
چې پرې سپرېږي سپینې خولې ژېړ پېزوانونه

کوچیان، سهار وختي له خوبه پاڅېدل.

بیا یې کالي او کیږدۍ ټولې کړې.

خپل مالونه یې پر اوښانو او خرو بار کړل.

رمې یې نارینوو مخکې کړې.

ښځو هم د اوښانو او خرو سره روان شول.

هغوی د کابل ښار نه ورو، ورو لرې کېدل.

هغوې د لته بند د لارې ننګرهار خوا ته روان ول.

د ورځې به یې مزل کوه، د شپې له خوا به یې په دښتو کې شپې سبا کوې او سهار وختي به یې بیا مزل پیلاوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

شپنه ادي

..........................................................................

درې شپې وروسته خپل ټاکلي ځای ته ورسېدل.

سور ګل او ادې خپلو ځانو ته بېله (جلا) خیمه ودروله، هغوی به د سهار چای، غرمې او د شپې ډوډۍ د سور ګل د کورنۍ سره خوړه او د شپې به خپلې خیمې ته، تله او بیده کېدل.

څو کاله تېر شول.

هغوی ته خدای زوی ورکړ.

نوم یې پرې سپلمی کېښود.

څو کاله وروسته یې بل زوی پیدا او نوم یې پرې سپیلنی کېښود.

بیا خدای یوه نازولی لور ور په برخه کړه او پر هغې یې نوم وړانګه کېښوده.

خوشحاله ژوند و.

په دوبي کې به سړو او په ژمي کې به تودو (ګرمو) سیمو ته تلل.

کلونه تېر شول.

ژوند په مخه ته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماشومان به هم لوېدل (غتېدل).

په دښتو کې مزلونه، دوړې، خاورې، اغزي، د اوبو لږوالی، کالي مينځل، ځان مينځل، ناروغېدل، په پښو تګ دا هغه ستونزې وې چې د هغوي سره د ژوند ترپايه مل وې.

ادې خپل مېړه (خاوند) د يوه مين په چاودنې کې له لاسه ورکړ او په خپله هم په هماغه چاودنه کې ټپي شوه.

ټپونه يې دومره ژور نه ول.

د زړو ښځو له خوا په دوديزه توګه يې در ملنه وشوه.

دوې مياشتې وروسته بېرته د پخوا په شان خپل عادي ژوند ته وګرځېده.

د ناوروغتيا په وخت کې د رمو څرول او نورو کارونو کې د هغې ماشومانو سره نږدې خپلوانو يې مرسته کوه.

هغې ته دېرش مېږې، دوې اوښان، دوې خره، چرګې او چرګان پاتې ول.

د هغي اولادونه کوشني او مشر زوی يې د اته کالو و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

شپنه ادې

.....................................................................

په ژمي کې به يې د نورو کو چيانو سره د ګرمو سيمو په دښتو کې ژوند کوه.

په دوبي کې به پلازمينې او نورو سړو سيمو ته کډه کوه.

هلته به يې په يوه زرغونه سيمې کې کيږدۍ دروله، کوم ځای چې د اوبو سر چينو ته نږدې و.

ادې خورا غښتلې او ځوانه کونډه وه.

هغې به ډېرې کارونه لکه:

- کيږدۍ درول،
- کالي بارول،
- کالي مينځل،
- خس ټولول،
- لرګي ماتول،
- اوړه لمدول،
- ډوډۍ پخول،
- ميښې لوشل،
- کتخ پخول،
- لوښی مينځل،
- د چينې نه اوبه راوړل

او ميږې څرول به يې په خپله کول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

شپنه ادې

........................................................................

مشر زوی به د هغې سره د مېږو په څرولو کې مرسته کوه.

هغې یوه غټه کټه سپی هم درلود.
د سپي غوږونه او لکۍ یې په کوشني والې کې پرې شوي ول.
په رنګ سور او ډېر زلاله سپی و.

هغې به سپي نه د رمې په څرولو او ساتنې کې ګټه اخیسته.

سپي به د ورځې له خوا څه نه ویل او ډېری وخت به د رمې سره ګرځېده.
سپي به د رمې ساتنه کوه.

د شپې د خوا به د کېږدۍ ننوتلو (دروازې) خوا بیده کېده او هیڅ ځناور به نشو کولای چې کېږدۍ ته نږدې شي.

هغه ډېر ځیرکه او خدمتګاره سپی و.
سپی په شپنې ادې هم ډیر ګران او د هغه نه به یې پالنه کوه.
کله ناکله به یې هغه ته په شیدو کې جواری خیشتاوه (لمداوه) او هغه ته یې به یې ورکوه.
لېورونو( د مېږه ورونو) یې هغې ته، تمه درلوده چې د هغې سره واده وکړۍ.

خو هغې نه غوښتل چې د بل چا سره واده و کړۍ.
هغې به تل ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه غواړم چې د خاوند په نامه کښېنم.
د خپلو ځامنو، لور روزنه او ساتنه وکړم.

مګر لېورونو به یې ویل:
ته نا سم کار کوې.
دا د پښتنو دود نه دی.
ته باید یو لېور وناکې.

د هغې لېورونو ټولو یوه واده کړی و.

هیڅ یو یې یواځې (مجرد نه و)

ورځې تېرېدې.

ژوند د ستونزو سره مخ ته، ته.

نو هغه د پولاد په شان کلکه وه او خوشې خبرو ته به یې پام نه کوه.

د ماشومانو روزنه به یې هم کوه.
خپل ماشومان یې د رمې ځرولو، خس ټولولو او د کور نورو کارونو سره بلدول.

ماشومان یې هم د مور(ادې) په شان زیرک او هوښیار ول.

هغې به خپله کیږدۍ د نورو خپلوانو نه، لرې لرې دروله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغې نه غوښتل چې ليورونه يې د هغې ننداره وکړئ.

څه وخت تېر شو.

بيا ليورنو يې هغې ته جرګه ولېږله.

مګر هغې د جرګې خبره و نه منه او هغوی ته يې د نه ځواب ورکړ.

بيا د جرګې کسانو پرېکړه وکړه چې هغه نه شي کوی د نورو کوچيانو سره يوځای او ګډ سفر وکوي.
او نه هم کولای شئ د نورو کوچيانو سره په يوې سيمې کې ژوند وکړئ.

هغې و منه.

د جرګې کسانو پر هغې لعنت و ويل او له کيږدئ نه يې د باندی شول.

هر کس خپلې کيږدئ خوا ته روان شو.
ادې خورا خواشينې شوه.

بله لاره يې نه درلوده.

د شپې ويده شوه او سهار وختي له خوبه پاڅېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماشومان يې راوېښ کړل.

بيا يې مېږې د کيږدۍ نه د باندې کړې.
کيږدۍ يې ټوله او وتړه.

کيږدۍ يې پر اوښ بار او ټينګه يې وتړه.

بيا يې نور کالي پر او ښانو او خرو بار کړل.

کوچنی زوی او لور يې په خره کيناول او خپله له مشر زوی سره د رمې سره روانه او د کوچيانو د سيمې نه و وتل.

هغې به د هر چانه پوښتنه کوه:

نږدې سيمه چې هغه وکولای شي رمه وڅروي او د سرکاري (دولتي) ځمکه وي.

چا به يو او بل به، بل ځای آدرس ورکاوه.
هغه په کابل کې سمه بلده هم نه وه.

څوک يې هم نه پيژانده.

حيرانه پاتې وه چې څه وکړئ؟
بيا يوه کس ورته د قول حشمت خان چې د ظاهر شاه د وخت ځمکه ده، آدرس ورکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

شپنه ادي

.....................................................................

هغې پوښتنه وکړه:
هلته به زما رمه مړه شي؟

کس و ويل:
د يوې رمې له پاره بسېږي.

هغه خوشحاله شوه او د حشمت خان د کول په خوايې حرکت وکړ.

د حشمت خان کول (قول) هغه سيمه ده چې په اتمه ناحې اړوند کې شتون لري او شهداې صالحين لمرخاته خوا ته پرته ده.

په دې سيمه کې د مني نه تر پسرلي پورې اوبه ډنډې وي، کومې اوبه د لوګر سيند څخه چې د خلکو اړتيا ورته نه وي، ډکيږي.

په پسرلي کې په کې نلونه او راز راز واښه شنه کيږي او خورا زرغون او ښکلی ښکاري.

په پخوا وختو کې به اروابناد محمد ظاهر شاه د افغانستان پخوانی پاچا، په دې کول کې ښکار کوه.

هغه به مازيګر د خپل دوست، حشمت خان چې په هغه سيمې کې يوه لويه کلا هم درلوده، چې تر اوسه د کلا دېوالونه او ځينې برخې يې شتون لري، شپه تېروه او سهار وختي به د لمانځه نه مخکې سيمې ته، ته او الته به يې ښکار کوه.

شپنه ادې

........................................................................

هغه الته یوه کوچنۍ کیښتۍ هم درلوده، او هغې نه به یې د ښکار له پاره ګټه اخیسته.

ادې دوې ګړۍ وروسته د حشمت خان کول ته و رسېده.
هرې خوا یې نظر واچوه، تر څو یوه مناسبه او ښه سیمه پیدا او الته کیږدۍ ودروي.

د کول په منځ کې لږ اوبه وې.
نورې سیمې هم لمدې وې.

هغه پوهېده چې د ورښتونو (بارانونو) موسم دی.
کې دی شي ورښت و وریږي.
بیا به څه کوي؟

هغه د بار سره ولاړه وه.
سوچونه یې پیل کړل.
هرې خوا ته یې په زیر سره کتل.

بیایې پرېکړه وکړه تر څو چې و دانیو ته نږدې کوم ځای و مومي.
هغې د کورونو خوا ته مخه وکړه.
کورونو ته ورسېده.

هغې د کورونو تر څنګ یو تش ځای چې دسیمې خلکو ورته میداني ویل و موند.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه ډګر(میدانی) کې ودرېده.

ماشومانو د هرې خوا منډې کړې.
بیا یې په چغو و ویل:
منډی کړئ!
اوښان راغلي دي.

ماشومانو د ادې د کډې شاوخوا راټول، شول.

په دې وخت کې ځوانان او نجونې هم ورسېدل.

ادې د ماشومانو نه وپوښتل:
دا ډګر د چا دی؟

کوچنیانو و ویل:
دا ځای سر کاري (دولتي) دی.
ادې خوشحاله شوه.

بیا یې و پوشتل:
دلته اوبه پیدا کیږي؟

ماشومانو و ویل:
هو!
زمونږ په کورونو کې څاه ګانې شته.
مونږ د څا بمبې هم لرو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



.......................................................................

ستا ماشومان هم کولای شئ چې له ځاه نه د بمبې په ذريعه (واسطه) اوبه و باسئ.

بيا هغې و پوښتل:
مالونو ته به اوبه له کومه کړم؟

ماشومانو و ويل:
دلته نږدې جومات شته.

ته خو ډېرې بوشکې هم لرې.
کولای شې جومات د ځاه نه يې ډکې او راوړې.

ادې خوشحاله شوه.
په دې ترځ کې ځو سپين ږيرې هم ورسېدل.
هغوی د ادې نه پوښتنه وکړه:
دلته څه کوې؟

هغې و ويل:
دلته غواړم کيږدۍ ودروم.

بيا سپين ږيرو ويل:
ته يواځې غواړې چې دلته کيږدۍ ودروې او که نور کوچيان هم دلته راځي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغې و ویل:
نه!
زه یواځې یم.

بیایې خپل لنډ داستان سپین ږیرو ته بیان کړ.

سپین ږیرو خپل منځ کې په خبرو پیل کړ.

ورسته یې پرېکړه وکړه تر څو هغې ته په ډګر کې ځای ورکړي.

یوه سپین ږیري و ویل:
سمه ده خورې!
مونږ کومه ستونزه نه لرو.

مګر دا ځای په ژمي کې ډیر سوړ دی.
واورې ورېږي.
ستا ماشومان او څاروي به له سړو، مړه شي.

ادې و ویل:
زه کوچې یمه.

څو میاشتې وروسته، بېرته تودو سیمو ته ځم.

سپین ږیري په خندا شول او ویې ویل:
مونږ دې وډارکړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مونږ سوچ کوه چې ته، د تل له پاره دلته غواړې ژوند وکړئ.

اوس کولای شئ خپله کډه کوزه او کيږدۍ ودروئ.

بيا سپين ږيرو، پرماشومانو غږ کړ او ويې ويل:
ماشومانو!
هله!
د ادې سره مرسته وکړئ.

ټولو په ګډه سره بارونه کښته (کوز) کړل.

بيايې کيږدۍ ودروه.

د شاو خوا کورونو ادې ته ډوډۍ او کتغ راوړ.

هغوی پر نيمڅي کيناستل او په خوړلو يې پيل کړ.

په خورا خوشحالۍ يې ډوډۍ وخوړه.

بيا يې د اوبو بوشکه واخيسته او په جام کې يې اوبه توی کړې.

لومړی يې خپلو ماشومانو او بيا وروسته يې په خپله و څښلې.

هرڅه يې په کيږدۍ کې منظم او ماشومانو ته يې و ويل:
زه رمه، څرولو ته بيايم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



........................................................................

تاسو دلته پاتې شئ.

زه رمه نږدې څروم.
لرې نه ځم.

ماشومانو و منه.

هغه روانه شوه.

هرې خوا وابنه او نلونه پرېمانه ول.

رمه، اوښان او خرونه څرېده.

هغه ولاړه وه؛

هرې خوا یې ننداره کوه.

د غره کورنو او د کابل بالاحصار خوا ته به یې کتل.

کله به یې د شهدای صالحین ادیرو ته کتل.
مېړه به یې ور په یاد شو.
اود سترګو نه به یې اوښکې تویدې.

کله به یې آسمان ته وکتل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

شپنه ادې

.....................................................................

آسمان شين، د خاورو او دوړو د لاسه به ستوري نه ښکارېدل.

دوې ګړۍ تېرې شوې.

مازيګر نږدې شو.

پسونه هم ماړه ښکارېدل.

ځينو يې په واښو کې سپلت وهلی و.

ځينې نور ولاړ او لږ، لږ يې د نلونو ځوکو ته خوله اچوله.

ځانونه يې بوخت کړي ول.

ادې پوهېده چې پسونه ماړه شوي دي.

بيا يې پسونو ته غږ کړ.
اورې!
اورې!
پسونه ټول پاڅېدل.

بيا يې پسونو ته د کيږدۍ د تګ ناره کړه.

پسونه مخکې، ادې او سپی يې ور په سې روان شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

شپنه ادې

..........................................................................

ډېر ژر کيړدۍ ته ورسېدل.
د کيړدۍ خوا ته يې ودرول.
بيا يې هغوی ته ماجت د څانه اوبه راوړې.

اوبه يې په يوه لوی لوښي (تشت، طشت) کې توې کړې.

پسونه هم نږدې شول او د اوبو په څښلو يې پيل کړ.

ادې څو ځل په لوښي کې اوبه واچوې تر څو د ټولو پسو تنده ماته شوه او د اوبو د لوښي لرې شول.

بيا يې ټول پسونه کيړدۍ ته د ننه کړل.

اوښان او خرو ته يې هم اوبه ورکړې.

بيا يې اوښان او خرونه پر مېوږيو پورې کيړدۍ نه د باندې وتړل.

سپی هم د کيړدۍ نه د باندې پاتې شو.

د کيړدۍ او د باندې څارويو څارنه به يې کوه.

څو کاله تېر شول.
ما به د هغوی د راتګ څارنه کوله.
کوم وخت به مې چې د هغوی کيړدۍ وليده، بيا به نږدې ورتلم او د سپلمي او سپيلني پوښتنه به مې کوله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغوی څه لوی شوي ول.
زه یې په یاد وم.

ما به هغوی هڅول چې ښونځي ته لاړ شي.
لیک او لوست زده کړي.

هغوی به خندل او ویل:
کوم ښونځی؟
چېرته؟
مونږ خو په یوه ځای نه یو.

ما به ویل:
تاسو اوس په ډګر کې نږدې کورونو تر څنګ ژوند کوئ.
حتما په تاسو اغېزه کوي.
کال بل هم تېر شو.
زه نږدې تېرېدم او د کیږدۍ په لټه وم.
سوچ مې کوه چې ولې سږ کال شپنه ادې نه ده راغلې.
بیا به مې ویل:
کې دی شي وخت ډېر وي.
هغوی به وروسته راشي.
اوس هوا دومره توده نه ده.
ورځې تېرېدې.
د هغوی نه کوم څرک نه و.
کال تېر شو.
بیا پسرلی شو؛

(c) ketabton.com: The Digital Library



د غبرګولي میاشت ورسېده.
د کول اوبه په وچېدو شوې.

ما هم د نورو په شان په کول کې تګ او راتګ پیل کړ.
یوه ورځ مې په کول کې، کوشنۍ رمه په سترګو شوه.
سوچ مې نه کوه چې دا به هماغه د ادې رمه وي.
ځکه هغه رمه ډېره، اوښان او خره هم په کې ول.

نږدې لاړم.
د سپلمي سترګې په ما ولګېدې.

هغه مخ پر ما یې منډې کړې.
ماته نږدې و درېد او سلام یې راکړ.

ما هم سلام ته یې وعلیکم و ویل:
ومې پوښتل:
چېرته ورک یاست؟
هغه و ویل:
مونږ دلته یو.
بیا مې و پوښتل:
دلته، چېرته؟
هغه و ویل:
کورکې، ډګر ته نږدې.
هغه زیاته کړه.
رمه وینې!

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما و ویل:
هو!
هغه ډېره کوچنۍ شوې ده.
ولې؟
هغه و ویل:
تنګ او راتنګ،
د ترونو فشار، زما په مور.
مونږ دې ته اړ کړو چې خپل ځاروي خرڅ او کوشنی کور واخلو.
اوس په کیږدۍ کې نه، بلکه په خپل کور کې ژوند کوو.

ډېر خوشحاله شوم.
هغه ته و ویل:
ځومره ښه کار!
بیا مې زیاته کړه.
دلته نږدې د حشمت خان د کلا سرکاري (دولتي) ښونځی شتون لري، ته کولای شې، ښونځي ته لاړ شې.
سبق ولولي او خپل ورور او خور هم  په ښونځي کې د ننه (شامل) کړې.

هغه هم ډېر خوشحاله شو او ویې ویل:
زمونږ د کیسې کتاب دې چاپ کړ؟

ما و ویل:
لږ ځنډ وروسته به چاپ او یو ټوک به یې تا ته راوړم.
ته سبق و وایه!

(c) ketabton.com: The Digital Library



لیک او لوست زده کړه!
پر ورور او خور دې هم سبق و وایه.

په دې حال کې به ستاسو ګټه هېواد او هېوادوالو ته ډېره وي.
ته به وکولای شې کوم کتاب چې د تاسو د ژوند د یوې کوچنۍ برخې داستان په کې لیکل شوی دی، په خپله ولولې.
نورو ته به یې کیسې هم وکړې.

هغه ومنه.
په خندا شو.

زه هم د هغه نه لږ لرې شوم او ورته مې و ویل:
کتاب چې چاپ شو یو ټوک یې درته راوړم.

د اوس له پاره خدای پامان.

**پای**

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د چاپ شویو کتابونو لېست

۱. معماری افغانستان
۲. اطلاعات، اصول و قواعد طراحی در معماری
(بخش شفاخانه ها)
۳. راهنمود طلایې
(برای اساتید اانستیتوت های تخنیکې و ساختمانی افغانستان)
٤. رسم تخنیک (گامی به سوی دنیای انجینری) جلد اول
٥. رسم تخنیک (گامی به سوی دنیای انجینری) جلد دوم
٦. اطلاعات، اصول و قواعد طراحی در معماری (بخش اداری)
۷. معماری اصیل شهر کابل (مرادخانی)
۸. معماری شهر کابل (بی بی مهرو)
۹. افغانستان در قرن تکنالوژی
۱۰. زونبندی اقلیم و زلزله افغانستان
۱۱. صدقه جاریه/ دنیای انجینری
۱۲. آموخته های ناب از طراحی تا نظارت
جلد اول (۱۹۹۰ الی ۲۰۲۱)
۱۳. داستان حقیقی با مقیاس معماری
۱٤. فرار از کشور- با تصاویر مستند
۱٥. نقش دانشمندان مسلمان در فن معماری و مهندسی
۱٦. پخسه در افغانستان
۱۷. بنیا نگذاری اولین مساجد توسط افغانها در آسترلیا
۱۸. آموخته های ناب از طراحی تا نظارت
جلد دوم (۱۹۹۰ الی ۲۰۲۱)

(c) ketabton.com: The Digital Library



........................................................................

۱۹. منار جام – الهامی برای قطب منار
۲۰. آموخته های ناب از طراحی تا نظارت
جلد سوم (۱۹۹۰ الی ۲۰۲۱)
۲۱. جام یا کلیان ( کلان)
۲۲. معماری گل و چوب (معماری شهر کهنه کابل) جلد اول
۲۳. معماری گل و چوب (معماری شهر کهنه کابل) جلد دوم
۲۴. معماری گل و چوب (معماری شهر کهنه کابل) جلد سوم
۲۵. چېر ته چې قانون نه شته (ګډوډي د افغانستان په معماری کې)
۲۶. مډرنه جوما تونه ,, پخوا او نن ،،
۲۷. هله جور کو (نی پخسه – مقاوم زلزله)
۲۸. اطلاعات، اصول و قواعد طراحی در معماری (بخش مساجد)
۲۹. اطلاعات، اصول و قواعد طراحی در معماری (بخش مکاتب)
۳۰. هنر و صنعت چوب در مرادخانی
۳۱. هنر و پیشه حکاکي - زرگری در مرادخانی
۳۲. هیچ (چهل داستان واقعی)
۳۳. معماری اصیل شهر کابل
(تشریح مورخ ۱۷ ماه میزان سال ۱۴۰۱ پوهنتون پولی تخنیک کابل)
۳٤. ۴۰- چهل
۳۵. مجنون او ګلچېن (پښتو ناول)
۳٦. در جستجو (ناول به زبان دری)
۳۷. تفاوت ها تفاوت می آورد (کتاب تصویری)
۳۸. مجموعه از دروس دینی مولوی صاحب خیرالله مخدوم
(جلد اول)

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳۹. برف ها آب میشود
٤۰. رسم و تخنیک (گامی به سوی دنیای انجینری) جلد سوم
٤۱. آرزو و امید (ناول به زبان دری)
٤۲. بوډا ښکاري (پښتو ناول)
٤۳. د اسلامي معمارۍ پیل
٤٤. نامنوني ژوي (پښتو ناول)
٤٥. حیوانات شوخ ( ناول به زبان دری)
٤٦. مجموعه از دروس دینی مولوی صاحب خیرالله مخدوم (جلد دوم)
٤۷. د شپیلۍ مینه (مه ینه) په کچه ګړۍ کې (پښتو ناول)
٤۸. حشمت خان د کلا معماري
٤۹. د افغان الک او آذري جلۍ مینه (پښتو ناول)
٥۰. د وچو بڼونه او پارکونو معماري
٥۱. د یوې ښونکې مینان په یوه ټولګي کې (پښتو ناول
٥۲. د ژرنده ګړي ماما مینه (پښتو ناول)
٥۳. په اسلامي نظام کې ودانیز پرمختګ
٥٤. شپنه ادې (پښتو ناول)

(c) ketabton.com: The Digital Library

شپنه ادې

.....................................................................

## د کار لاندې کتابونو لېست

١. مجموعه از دروس دینی مولوی صاحب خیرالله مخدوم (جلد سوم)
٢. سرغندوی (ناب، مشهور) پوډري
٣. لیونی لېوه
٤. بې زده کړې پوی
٥. کوشنۍ سوداګره
٦. سپین کارغه
٧. سور تنور
٨. خړه بیزو
٩. بندي مرغه
١٠. توده برستن
١١. د ژوند پای

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د امکان او وخت په صورت کې

١. پخسه در افغانستان (به زبان انگلیسی)
٢. تاریخ معماری افغانستان
٣. حویلی های آسمان خراش
٤. ارتباط گذ شته، حال و آینده در معماری
٥. استعداد، سرعت و اقتصاد در معماری افغانستان
٦. شیطان چراغ
٧. خاطره ها

(c) ketabton.com: The Digital Library

# Herdswoman

Written by:
Architect PHD
Hashmatullah Atmar
November/December -2024

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**